Diwan
International Scientific and Research Journal
مجله علمی تحقیقی بین المللی دیوان
ISSN: 6428-2706 / E-ISSN: 7462-2707

105-130 : Pages / صفحات، 2026 :Year / سال، 1 :Issue / شماره، 7 :Vol / جلد ISSN: 2706-6428 E-ISSN: 2707-7462

# په اسلامي اقتصاد کې د څېړنې مېتودولوژي او فقهي نصوصو سره د تعامل علمي تګلارې

# منهجية البحث في الاقتصاد الإسلامي وسبل التعامل العلمي مع النصوص الفقهية

# Research Methodology in Islamic Economics and Approaches to Engaging with Shariah Texts

# İslam Ekonomisinde Araştırma Yöntemleri ve Fıkhî Metinlerle Bilimsel Etkileşim Yolları

ارسلاح ظفری[1]* محمد هاشم رشیدی[2]

**لنډیز**

دا څېړنه د اسلامي اقتصاد په ساحه کې د څېړنې مېتودولوژي او د فقهي نصوصو سره د تعامل علمي تګلارې څېړي .اسلامي اقتصاد د شریعت پر اصولو ولاړ دی او د فقهي نصوصو پر اساس خپل چوکاټ جوړوي، نو د څېړنې میتود باید د شرعي دلائیلو او فقهي نظریاتو سره همغږی وي . د څېړنې اصلي هدف دا دی چې د اسلامي اقتصاد څېړونکو ته روښانه لاربښوونې وړاندې کړي، څو پوه شي چې د فقهاوو د مختلفو نظریاتو تر منځ د راجح ټاکلو صلاحیت لري، کومې برخې د تقلید تابع دي، او په کومو برخو کې د اجتهاد امکان شته. په دې څېړنه کې د تحلیلي او استقرایي طریقو څخه کار اخیستل شوی دی. استقرایي طریقه د فقهي نصوصو او د فقهاوو د نظریاتو د څېړنې لپاره کارول شوې، او تحلیلي طریقه د اسلامي اقتصاد موضوعاتو او د ثابتو او متغیرو احکامو د مطالعې لپاره .څېړنه دا هم څرګندوي چې څېړونکی تر کومه بریده د مختلفو فقهي نظریاتو تر منځ د ترجیح ورتیا لري او په کومو مواردو کې یوازې د تقلید پیروي لازمه ده.موندنې ښیي چې په ثابتو احکامو کې د فقهاوو د اجماعي نظرونو پیروي اړینه ده، ځکه چې دغه احکام د شریعت پر قطعي دلائیلو ولاړ دي .په متغیرو احکامو کې بیا د اقتصادي واقعیتونو او نوو اړتیاوو په رڼا کې د اجتهادي تحلیل امکان شته .څېړونکی که د اقتصادي فقهي او د نصوصو په پوهه کې ژوره پوهه ولري، کولای شي د فقهي نظریاتو ترمنځ د ترجیح ونډه واخلي او د اسلامي اقتصاد د معاصرې ستونزې لپاره علمي او عملي حللارې وړاندې کړي.

**کلیدي کلمات:** شرعي نصوص، اسلامي اقتصاد، مېتودولوژي، ثابت احکام، متغیر احکام.

CC BY NC

DOI:
https://doi.org/10.69892/diwan.2026.117

Research Article / مقاله تحقیقی

Received Date / تاریخ دریافت
24.06.2024

Accepted Date / تاریخ قبول
25.08.2025

Publication Date / تاریخ نشر
01.01.2026

[1] پوهنمل، دوکتور، دیپارتمنت اقتصاد و بانکداری اسلامی، پوهنځی شرعیات، پوهنتون بین المللی اسلامی افغان، کابل، افغانستان.

[2] پوهنمل، دیپارتمنت اداره و تشبثات، پوهنځی اقتصاد، پوهنتون غزنی، غزنی، افغانستان.

ORCID
0000-0003-0434-1702
0009-0005-8525-4302

E-Mail
arsalahzafari99@gmail.com
rashidihasham2010@gmail.com

این مقاله توسط نرم افزار تورنیتین Turnitin بررسی شده Plagiarism یا سرقت ادبی تثبیت نگردید.

This article has been scanned by Turnitin. No Plagiarism detected.

**نحوۀ ارجاع دهی از این مقاله در پاورقی/Atıf :**

ارسلاح ظفری - محمد هاشم رشیدی، "په اسلامي اقتصاد کې د څېړنې مېتودولوژي او فقهي نصوصو سره د تعامل علمي تګلارې"، *مجله دیوان* ۱/۷ (جدی ۱۴۰۴)، ۱۰۵-۱۳۰.

Arsalah Zafari – Mohammad Hasham Rashidi, "Research Methodology in Islamic Economics and Approaches to Engaging with Shariah Texts", *Diwan Journal* 7/1 (January 2026), 105-130.

**Abstract**

This study examines the research methodology in Islamic economics and the scholarly approaches for interacting with Shariah texts. Islamic economics is grounded in Shariah principles and structures its framework based on jurisprudential texts; therefore, research methodology must align with legal evidence and juristic perspectives. The primary aim of this study is to provide clear guidance for Islamic economics researchers on how to identify the preferred opinion among various juristic schools, determine areas requiring adherence (taqlid), and identify domains where independent reasoning (ijtihad) is permissible. The study employs both analytical and inductive approaches. The inductive method is used to examine jurisprudential texts and track jurists' opinions, while the analytical method is applied to study Islamic economics topics and analyze fixed and variable rulings. The research highlights the extent to which a scholar can select a preferred opinion among differing juristic views and identifies areas where strict adherence to precedent is necessary. Findings indicate that following juristic consensus is essential for fixed rulings, as they are based on definitive Shariah evidence. In contrast, variable rulings allow scope for ijtihad analysis considering economic realities and contemporary needs. A researcher with deep understanding of economic jurisprudence and textual sources can contribute to selecting the preferred opinion and offer scientific and practical solutions to contemporary challenges in Islamic economics.

**Keywords**: Shariah Texts, Islamic Economics, Research Methodology, Fixed Rulings, Variable Rulings.

**الملخص**

تبحث هذه الدراسة في منهجية البحث في الاقتصاد الإسلامي وأساليب التعامل العلمي مع النصوص الفقهية .يعتمد الاقتصاد الإسلامي على مبادئ الشريعة ويؤسس أطره وفق النصوص الفقهية، لذلك يجب أن تتوافق منهجية البحث مع الأدلة الشرعية ووجهات النظر الفقهية .الهدف الرئيسي من هذه الدراسة هو تقديم إرشادات واضحة للباحثين في الاقتصاد الإسلامي حول كيفية تحديد الرأي المرجح بين المذاهب الفقهية المختلفة، ومعرفة المجالات التي تتطلب التقليد، وتلك التي يمكن فيها الاجتهاد .تم استخدام المنهج التحليلي والاستقرائي في هذه الدراسة .استُخدم المنهج الاستقرائي لدراسة النصوص الفقهية ومتابعة آراء الفقهاء، بينما استخدم المنهج التحليلي لدراسة موضوعات الاقتصاد الإسلامي والأحكام الثابتة والمتغيرة .توضح الدراسة مدى قدرة الباحث على اختيار الرأي المرجح بين الآراء الفقهية المختلفة، والمجالات التي يكون فيها الالتزام بالتقليد ضرورياً .تشير النتائج إلى أن اتباع الإجماع الفقهي ضروري في الأحكام الثابتة، لأنها قائمة على أدلة شرعية قطعية .أما في الأحكام المتغيرة، فهناك مجال للتحليل الاجتهادي وفق الواقع الاقتصادي والاحتياجات المعاصرة .إذا كان الباحث متمكناً من فهم الفقه الاقتصادي والنصوص الشرعية، يمكنه المشاركة في تحديد الرأي المرجح وتقديم حلول علمية وعملية للتحديات المعاصرة في الاقتصاد الإسلامي.


**الكلمات المفتاحية**: النصوص الشرعية، الاقتصاد الإسلامي، المنهجية، الأحكام الثابتة، الأحكام المتغيرة.


## Özet

Bu çalışma, İslam ekonomisinde araştırma metodolojisini ve fıkhî metinlerle bilimsel etkileşim yollarını incelemektedir. İslam ekonomisi, Şeriat prensiplerine dayanır ve çerçevesini fıkhî metinler temelinde oluşturur; bu nedenle araştırma metodolojisi, hukuki deliller ve fıkhî görüşlerle uyumlu olmalıdır. Bu çalışmanın temel amacı, İslam ekonomisi araştırmacılarına farklı fıkhî görüşler arasında tercih edilen görüşü nasıl belirleyecekleri, hangi alanlarda taklidin (itaat) gerekli olduğu ve hangi alanlarda içtihat yapmanın mümkün olduğu konusunda net rehberlik sağlamaktır. Bu çalışmada hem analitik hem de tümevarımsal (indüksiyon) yöntemler kullanılmıştır. Tümevarımsal yöntem, fıkhî metinleri incelemek ve âlimlerin görüşlerini takip etmek için uygulanmıştır; analitik yöntem ise İslam ekonomisi konularını ve sabit ile değişken hükümleri analiz etmek için kullanılmıştır. Araştırma, bir araştırmacının farklı fıkhî görüşler arasında tercih edilen görüşü belirleme yeteneğini ve hangi durumlarda yalnızca taklidin gerekli olduğunu göstermektedir. Bulgular, sabit hükümler için fıkhî icmanın takip

edilmesinin zorunlu olduğunu ortaya koymaktadır, çünkü bu hükümler kesin Şeriat delillerine dayanmaktadır. Öte yandan, değişken hükümler, ekonomik gerçekler ve güncel ihtiyaçlar ışığında içtihadi analiz yapılmasına olanak tanımaktadır. Araştırmacı, ekonomik fıkıh ve metinler konusunda derin bir anlayışa sahipse, farklı fıkhî görüşler arasında tercih yapılmasına katkıda bulunabilir ve İslam ekonomisindeki çağdaş sorunlara bilimsel ve pratik çözümler sunabilir.

**Anahtar Kelimeler:** Fıkhî Metinler, İslam Ekonomisi, Araştırma Yöntemi, Sabit Hükümler, Değişken Hükümler.

**سريزه**

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله و صحبه ومن والاه، وبعد:

په اسلامي اقتصاد کې د څېړنو پراختيا د معاصرې فقهي او اقتصادي اړتياوو ځواب ګڼل کېږي. ډېر څېړونکي پر دې باور دي چې اسلامي اقتصاد د فقهي علومو له مرحلې وروسته د يوې خپلواکې علمي څانګې په توګه رامنځته شوی،[1] خو لا تر اوسه يې څانګړتياوې، دندې، ميتود او ميکانيزمونه په بشپړه توګه نه دي روښانه شوي. د همدې تشې ډکول د دې څېړنې اساسي موخه ده. د اسلامي اقتصاد موضوع ځکه مهمه ده چې د اقتصادي واقعيتونو د بدلون په شرايطو کې يوازې د نصوصو نقل او تکرار بسنه نه کوي، بلکې د داسې علمي ميتود اړتيا ده چې د شرعي مقاصدو او معاصرو اقتصادي اړتياوو تر منځ توازن رامنځته کړي.

بې له شکه د فقهاءوو دنده د تفصيلي دلائلو څخه د شرعي احکامو استنباط دی، او دا دنده د شرايطو او پېښو د تکامل تابع وه. امام شافعي رح د خپل مذهب ډېره برخه بدله کړه کله چې له بغداد څخه مصر ته ولاړ، چېرته چې يې نوي شرايط او حالات وليدل، او نوي احاديث او شرعي دلائل ورته و رسېدل، نو د هغه دوه قوله شول، قديم په بغداد کې او نوی په مصر کې. همدارنګه امام مالک رحمه الله د هارون الرشيد غوښتنه رد کړه چې د هغه دکتاب (الموطا) او فقهي آراء يې په ټولو اسلامي هېوادونو کې عام کړي، په دې اساس چې فقه د يو ځای څخه بل ځای ته او د يو حالت څخه بل حالت ته توپير لري.[2]

د اسلامي اقتصاد د څېړونکو دنده د فقهي او اقتصادي مطالعې ترکيب دی. د اصول الفقه په علم کې دا پېژندل شوې ده چې شرعي حکم د تعميم او تطبيق لپاره دوو شيانو ته اړتيا لري، د مناط تخريج او د مناط تحقيق. د مناط تخريج د شرعي حکم د مقصد او علت پوهېدل دي، او د مناط تحقيق د دې تصديق دی چې دا علت په هغو شرايطو او وضعيتونو کې شتون لري چې غواړو پرې نص تطبيق کړو. بې له شکه د مناط تخريج د فقهي علم له لارې تر سره کېږي، او د مناط تحقيق د ټولنيزو علومو له لارې، نو ځکه د فقهي او ټولنيزو علومو ترمنځ د يووالي او همغږۍ رامنځته کول اړين دي.[3]

په دې څېړنه کې هڅه کېږي چې د ثابتو او متغيرو شرعي نصوصو په اړه د اسلامي اقتصاد د څېړنې تګلاره روښانه شي. د ثابتو نصوصو د تطبيق څرنګوالی او د متغيرو احکامو د انطباق حدود

[1] رفعت العوضي، *في الاقتصاد الاسلامي* (قطر: رئاسة المحاكم الشرعية، ١٤١٠هـ.ق)، ٦٧.

[2] عبدالكريم زيدان، *المدخل لدراسة الشريعة الاسلامية* (بيروت: مؤسسة الرسالة، ١٩٨٩ م)، ١٣٤.

[3] سامي ابراهيم السويلم، "الوساطة المالية في الاقتصاد الاسلامي"، *مجله اسلامي اقتصاد*، ١٠ (١٩٩٨ م)، ٨٧.

باید په داسې ډول څرګند شي چې هم د شریعت مقاصد خوندي کړي او هم د اقتصادي ودې او ټولنیز عدالت اړتیاوې پوره کړي. موخه دا ده چې د فقهې او اقتصاد ترمنځ همغږي رامنځته شي.
دغه څېړنه د استقرایي او تحلیلي مېتودونو په کارولو پرمخ وړل کېږي. د استقرایي مېتود له لارې به د اسلامي اقتصاد اړوند نصوص، فقهي اقوال او اقتصادي واقعیتونه راټولېږي، او د تحلیلي مېتود په وسیله به د دغو شواهدو پر بنسټ یو جامع میتود وړاندې شي. اصلي پوښتنه دا ده چې څنګه کولای شو د ثابتو او متغیرو شرعي نصوصو سره د چلند لپاره یو روښانه او جامع میتود رامنځته کړو؟
. دا څېړنه دا فرض کوي چې اسلامي اقتصاد کولی شي د فقهې او ټولنیزو علومو ترمنځ، په ځانګړې توګه د فقهې او اقتصاد علم ترمنځ د غوښتل شوي یووالي د رامنځته کولو پیل وي، ځکه چې دا علم فقه او اقتصاد سره یوځای کوي، نو کولی شي په اقتصادي برخه کې د شرعي احکامو د استنباط او تطبیق لپاره غوره طریقه وړاندې کړي.

د دې فرضیې د ثابتولو لپاره، څېړنه په پیل کې هڅه کوي چې د ثابتو شرعي احکامو او بیا د متغیرو شرعي احکامو سره د چلند په برخه کې د اسلامي اقتصاد میتود او میکانیزمونه وټاکي.

په اقتصادي موضوعاتو پورې اړوند شرعي دلائیلو اقتصادي مطالعه د مناسب شرعي حکم په موندلو کې مرسته کوي، او همدارنګه په معاصر واقعیت کې د دې حکم د تطبیق لپاره کار کوي.
په تاریخي لحاظ، د اسلامي اقتصاد د اصولو او مقاصدو په اړه د پخوانیو فقهاوو او همدارنګه د معاصرو علماوو لخوا څېړنې شوې دي.. خو د ثابتو او متغیرو شرعي نصوصو په رڼا کې د اسلامي اقتصاد د څېړنې د میتود او میکانیزمونو اړوند ځانګړې څېړنه ترسترګو نشوه، بناء یاده ساحه ځانګړو څېړنو ته اړتیا لري. د همدې اړتیا له مخې، دا څېړنه هڅه کوي چې د شرعي نصوصو او اقتصادي واقعیتونو د ګډ تحلیل له لارې یو داسې علمي چوکاټ رامنځته کړي چې هم د شریعت د مقاصدو تحقق یقیني کړي او هم د معاصر اقتصاد اړتیاوې پوره کړي.

### ۱. د اسلامي اقتصاد تعریف او د هغې مهمې موضوعګانې

اسلامي اقتصاد د یوې نوې علمي څانګې په توګه د معاصرو څېړنو او علمي بحثونو یوه مهمه برخه جوړوي. دا علم له یوې خوا د شرعي علومو له بنسټونو سره ژوره اړیکه لري، ځکه هڅه کوي چې د اسلامي فقهې په رڼا کې اقتصادي فعالیتونه تنظیم او رهبري کړي. له بلې خوا، د اقتصادي علومو له اصولو او وسایلو څخه د بېلېدو وړ نه دی، ځکه د اقتصادي واقعیتونو د تحلیل او د معاصرې نړۍ د اقتصادي ستونزو د درک لپاره له اقتصادي تیوریو او تحلیلي وسایلو څخه استفاده کوي. له همدې امله اسلامي اقتصاد د فقهې د یوه معاصر پړاو په توګه راڅرګندېږي، چې اساسي موخه یې په اقتصادي ډګر کې د شرعي احکامو عملي کول دي. دغه علم هڅه کوي د شریعت اصول او

اقتصادي واقعیتونه په داسې توګه سره یو ځای کړي، چې هم د دیني احکامو تطبیق یقیني شي او هم د معاصر اقتصاد اړتیاوې په علمي او عملي ډول پوره شي.[٤]

د شرعي احکامو سره د چلند په برخه کې د اسلامي اقتصاد د میتود او میکانیزمونو په اړه تر بحث مخکې غواړو د اسلامي اقتصاد په رامنځته کېدو، تعریف او فقهي او اسلامي اقتصاد ترمنځ په اړیکو بحث وکړو:

## ١.١. د اسلامي اقتصاد رامنځته کېدل

د شلمې پېړۍ په وروستیو دریو لسیزو کې یو نوی علم رامنځته شو، چې فقهي او اقتصادي مطالعه سره یوځای کوي، څېړونکو دې ته د اسلامي اقتصاد علم نوم ورکړ. دا په ځانګړې توګه د اسلامي اقتصاد د لومړي نړیوال کنفرانس په تعقیب کې چې په ١٩٧٦ز کال په مکه مکرمه کې جوړ شو، چېرته چې په ګڼو اسلامي هېوادونو کې پوهنتونونو د اسلامي اقتصاد لپاره پروګرامونه او ځانګې پرانیستلې، یاد اسلامي اقتصادي نظام اړوند کورسونه یې پیل کړل. دا د اسلامي بانکونو د پراخ خپرېدو سره مل و چې په اسلامي هېوادونو او نړۍ کې یې ترلاسه کړی و، او همدارنګه د اسلامي اقتصاد د ادبیاتو د ګړندۍ ودې سره مل و، چېرته چې په دې موضوع کې سلګونه، نه بلکې زرګونه مقالې، څېړنې او لیکنې رامنځته شوې.

په پیل کې د دې لیکنو ډېره برخه په اسلامي اقتصادي او مالي نظام او د اسلامي میراث په کتابونو تمرکز درلود او د اسلامي مالي نظام موضوعات یې څېړل لکه زکات، خراج، عشر، جزیه، غنیمتونه، فيء او داسې نور.

په وروستۍ مرحله کې، ګڼ شمېر څېړنې رامنځته شوې چې د اسلامي ارزښتونو سره یوځای اقتصادي تحلیلي وسایل کاروي ترڅو اقتصادي پدیدې او ستونزې تشریح او تحلیل کړي.[٥]

## ٢.١. د اسلامي اقتصاد مهمې موضوعګانې

د اسلامي اقتصاد په ادبیاتو کې د څېړل شویو ساحو او موضوعاتو د استقراء له لارې، موږ کولی شو د اسلامي اقتصاد مهمې ساحې په دریو اصلي ساحو کې راټولې کړو:

### ١.٢.١. اقتصادي نظام

اقتصادي نظام لاندې څو اړخونه رانغاړي:

١. اقتصادي موضوعات: اسلامي اقتصاد په زکات، سود، لګښتونو او عوایدو پورې اړوند اقتصادي موضوعات او مسئلې د معاصرو مالي معاملو او تړونونو اړوند شرعي احکام

---

[٤] کمال یوسف، *أضواء على الفكر الاقتصادي الإسلامي المعاصر* (قاهرة: دار الأنصار، بی‌تا)، ٢٣.

[٥] غازي مدني، *تطور علم الاقتصاد الاسلامي ودور مركز أبحاث الاقتصاد الاسلامي فيه* (جده: المعهد الاسلامي للبحوث والتدريب، ١٩٩٦ م)، ٥٦.

څېړي لکه د پلورلو معاصرې طريقې او د اجارې، وکالت، کفالت، رهن او وديعې احکام. که څه هم دا موضوعات د معاملاتو فقهې په رڼا کې څېړل کېدای شي، خو اسلامي اقتصاد د دې موضوعاتو د تحليل او پوهېدو لپاره اقتصادي نظريې او تحليلي وسايل او اقتصادي واقعيت کاروي، او بيا مناسب شرعي حکم ته رسېږي.

۲. اقتصادي نوښتونه: اسلامي اقتصاد معاصر مالي او پولي وسايل او فارمولې څېړي لکه ونډې، بانډونه، مالي بازار، سوداګريزه بيمه، د کريډيټ کارتونه او داسې نور. دا موضوعات د معاملاتو فقهې سربېره د اقتصاد علم او د هغه په تحليلي وسايلو د پوره پوهې غوښتنه کوي.

۳. د ځينو اقتصادي موضوعاتو د واجب کېدو يا حرامېدو د حکمت څرګندول: د مثبتو يا منفي اغېزو د څېړنې له لارې، لکه: د سود د حرامېدو حکمت، د ميراث د وېش حکمت، د زکات د فرضيت حکمت، د وقف د مشروعيت حکمت او داسې نور.

۴. د شرعي ضوابطو او اسلامي ارزښتونو په رڼا کې د اقتصادي قوانينو، نظريو او پاليسيو په کارولو سره د انسان د هوساينې د ترلاسه کولو لپاره د اسلامي طريقې څېړل. په دې برخه کې ګڼ شمېر څېړنې او مطالعات شوي دي، لکه د مصرفوونکي د چلند او د ګټې د قوانينو مطالعات، د توليدوونکي چلند او د حاصل قوانين، د معاشونو ګټې، د سود نظريې، د پرمختيا نظريې او داسې نور.[6]

### ۲.۲.۱. اقتصادي پاليسۍ

اقتصادي پاليسۍ دا لاندې موارد رانغاړي:

۱. د اقتصادي ستونزو او بحرانونو لپاره حل لارې: اسلامي اقتصاد د اقتصادي بحرانونو او ستونزو لپاره اسلامي حل لارې وړاندې کوي لکه انفلاسيون، رکود، بېکاري، د خوراک ستونزه، د انرژۍ ستونزه، پولي بحران او داسې نور.

۲. د اقتصادي شرعي احکامو د تطبيق څرګوالی: اسلامي اقتصاد، د اقتصادي شرعي احکامو د تطبيق لپاره د غوره وسايلو او پاليسيو په لټه کې دی، د کاري پروژو يا قوانينو د جوړولو له لارې، د زکات د فريضې د تطبيق لپاره، د يو غير سودي اقتصاد د ادارې لپاره، د وقف د احکامو تطبيق، د مړو ځمکو ژوندي کول، په اوسني وخت کې د حسبې تطبيق اوداسې نورې چارې.

۳. اسلامي اقتصادي فکر او ميراث: دا د مسلمانانو د امامانو د اقتصادي افکارو په څرګندولو، يا د اسلامي اقتصادي تاريخ په بيا جوړولو، او د اسلامي امت د اوسني

---

[6] محمد الفنجري، *المذهب الاقتصادي في الاسلام* (جده: دار عكاظ، ۱۹۸۱ م)، ۸۷.

اقتصادي واقعیت په خدمت کې د اسلامي اقتصادي تاریخ څخه په ګټه اخیستنې سره ترسره کېږي.

### ۳.۲.۱. د اسلامي اقتصاد تعریف

د اسلامي اقتصاد د پورته یادو شویو ګنو ساحو له امله، موږ د څېړونکو لخوا د اسلامي اقتصاد په تعریف کې لوی توپیرونه موندلي دي. د دې تعریفونو څخه مشهور دا دي:

د ډاکټر محمد عبدالله العربي تعریف: " اسلامي اقتصاد هغه عمومي اقتصادي اصول دي، چې موږ یې له قرآن او سنت څخه راباسو، او هغه اقتصادي جوړښت چې موږ یې د دې اصولو پر بنسټ د هر چاپېریال او هر عصر سره سم جوړوو[۷]. په دې تعریف کې لیدل کېږي چې دا له دوو برخو څخه جوړ شوی، لومړی برخه په اقتصادي برخه کې له اسلامي اصولو او مبادیو سره تړاو لري چې له قرآن او سنتو څخه اخیستل کېږي، په داسې حال کې چې دویمه برخه د دې اصولو تطبیق د هر وخت او چاپېریال شرایطو او پرمختګونو سره سم دی. لومړی برخه په عمومیت او ثبات ځانګړې شوې، نو ځکه ځینې خلک دې ته اسلامي اقتصادي مذهب وایي، په داسې حال کې چې دویمه برخه په تکامل او بدلون ځانګړې شوې چې د اسلامي شریعت عمومي مقاصد تر لاسه کوي، نو ځکه ځینې خلک دې برخې ته اسلامي اقتصادي نظام وایي.[۸]

د اسلامي اقتصاد د تعریف لپاره چې پورته ډېرى اړخونه رانغاړي، ویلی شو چې اسلامي اقتصاد *"هغه علم دی چې له یوې خوا شرعي احکام او د اقتصادي موضوعاتو، نوښتونو او ستونزو لپاره اسلامي حل لارې څېړي، او له بلې خوا د اسلامي تعلیماتو او ارزښتونو په رڼا کې اقتصادي نظریې او قوانین مطالعه کوي، او هڅه کوي چې دا ټول وکاروي ترڅو سرچینې په لوړه کچه او اغېزمنتیا سره وکارول شي، او محصولات په لوړه کچه عدالت سره ووېشل شي، په داسې ډول چې د پرمختیا او هوساینې، امنیت او ثبات لوړې کچې ترلاسه کړي".*

### ۴.۲.۱. د فقهې او اسلامي اقتصاد ترمنځ اړیکې

د پورتني تعریف او د اسلامي اقتصاد د ډېرو برخو په دقیقې کتنې سره، د دې علم لوړ اهمیت او د شرعي علومو په خدمت او د معاصرو ټولنو د ستونزو او بحرانونو په حل کې د هغه لوی رول څرګندېږي.

بې له شکه، د فقهې علم هغه علم دی چې د تفصیلي دلائلو څخه د شرعي احکامو په استنباط کې څېړنه کوي، او د فقهاوو ټاکل شوې دندې شرعي احکامو ته رسېدل دي، او له هغې وروسته د دوی رول پای ته رسېږي. دا د فقهې په علم کې د عیب یا نیمګړتیا شتون نه ښیي، ځکه چې

---

[۷] فتحي عبدالکریم احمد العسال، *النظام الاقتصادي في الاسلام* (قاهره: دار غریب، ۱۹۷۷ م)، ۳۴۲.
[۸] محمد الفنجري، *المذهب الاقتصادي في الاسلام*، ۲۳۲.

اسلامي فقه د غنا، جامعيت او انعطاف پذيرۍ په ځانګړتياوو سره ځانګړې شوې ده. مقصد دا دی چې فقهاوو خپله دنده د شرعي حکم په بيان او استنباط کې محدوده کړې ده او دا د فقهې علم ساحه ده، خو د اسلامي اقتصاد علم خپله دنده په دوو پړاوونو کې ترسره کوي:

**لومړی پړاو:** په دې کې مسلمان اقتصاد پوه اقتصادي واقعيت يا اقتصادي پديدې تشريح کوي او د هغې جزئيات څېړي، ترڅو فقيه وکولی شي شرعي حکم ته و رسېږي او هغه حکم د اقتصادي واقعيت يا پديدې سره تطبيق کړي.

**دويم پړاو:** په دې کې مسلمان اقتصاد پوه د اقتصادي اغېزو او د هغوی د شرعي مقاصدو سره د توافق يا انسجام په څېړلو سره د شرعي حکم د اقتصادي واقعيت سره د مطابقت څخه ډاډ تر لاسه کوي. دا يو داسې پړاو دی چې د شرعي احکامو په عملي واقعيت کې د عمل د ټينګښت او په معاصر واقعيت کې د ژوند کولو لپاره د تحليل او تطبيق په ځانګړتيا سره تميز کېږي.[9]

نو ځکه اسلامي اقتصاد کولای شي د اقتصادي واقعيت د تشريح په هڅه کې د هغو عواملو مطالعه وکړي چې د احتکار، اکتناز، د بيو لوړوالي يا د رکود او بېکارۍ د زياتوالي لامل کېږي. او بيا، د فقهاوو لخوا ترلاسه شوي شرعي احکامو ته په کتو سره، کولی شي په دې برخه کې اسلامي اقتصادي تګلارې وړانديز کړي، چې اجرائيوي ارګانونه او د اقتصادي وضعيت مسؤولين ترې ګټه پورته کولای شي.

### ۱.۲.۵. په شرعي احکامو کې ثبات او بدلون

د شرعي احکامو د ثبات او بدلون مسأله د هغو دقيقو مسئلو څخه ده چې ژور فقهي نظر او دقيقې څېړنې ته اړتيا لري. په داسې حال کې چې ځينې خلک د شرايطو او وخت د بدلون سره د نصوصو په ظاهر ودرېږي، په دې دليل چې د وحی له دريدو وروسته په احکامو کې نسخ نشته، او د نص په موجوديت کې اجتهاد نشته، بله ډله هڅه کوي د دې مسئلې لپاره ضوابط وټاکي. نه هغوی د نصوصو په ظاهر ودرېږي، او نه هم ټول نصوص تکامل او انطباق ته تابع کوي. له مهمو ضوابطو څخه يې ځينې په لاندې توګه دي:

۱. د نص د قطعي راتلو، د هغه د مناسبت، او د عام، خاص، مطلق او مقيد پېژندلو څخه ډاډ ترلاسه کول لازمي دي.
۲. د نبي صلی الله عليه وسلم له خبرو او کړنو څخه د هغه څه ټاکل چې تشريع ګڼل کېږي او هغه څه چې تشريع نه ګڼل کيږي.
۳. د مصلحت د ضوابطو او د هغې د شرعي دليل په توګه د اعتبار کچې ټاکل.

---

[9] سامي ابراهيم لسويلم، "الوساطة المالية في الاقتصاد الإسلامي"د ملک عبدالعزيز پوهنتون مجله: اسلامي اقتصاد ۱۰ (۱۹۹۸ م)، ۱۴۵/۱۰.

٤. د نصوصو د تفسير د ضوابطو ټاکل.
٥. د هغو احکامو ټاکل چې د زمانې په بدلون سره بدلېدای شي، او دا د اجتهاد تر ټولو دقيق او سخت باب دی.

## ٢. د اسلامي اقتصاد ميتود د ثابتو شرعي احکامو په څېړنه کې

د ثابتو او متغيرو شرعي احکامو په څېړنه کې د اسلامي اقتصاد د وړانديز شوي ميتود په اړه خبرې هغه وخت بشپړېدای شي چې دا علم ثابت، واضح قواعد او ټاکلي څېړنيز وسايل ولري. تر هغه وخته پورې چې دا تحقق ومومي، دا وړانديز شوی ميتود د اسلامي اقتصاد لپاره د يو واضح ميتود د جوړولو لپاره ښه ممد پاتې کېږي، څېړونکي کولی شي په دې علم کې د غوښتل شويو موخو د ترلاسه کولو لپاره يې په لنډو لارو تعقيب کړي.[10]

بايد تأکيد وشي چې هرڅومره چې اسلامي اقتصادي مطالعات پرمختګ وکړي، د دې ميتود ځانګړتياوې به په غوره توګه څرګندې شي. همدارنګه په شرعي او اقتصادي علومو کې د څېړونکو د وړتيا زياتوالی به دوی ته دا توان ورکړي چې د څېړنې د ميتود ځانګړتياوې په ډېر دقيق او منظم ډول وټاکي، او همدارنګه به دوی وتوانوي چې د متغيرو اقتصادي موضوعاتو لرونکو شرعي احکامو ترمنځ ترجيح وکړي.[11]

په دې مبحث کې به موږ يوازې د ثابتو شرعي احکامو يو مثال وړاندې کړو، د هغه له لارې به روښانه کړو چې څنګه اسلامي اقتصاد د ثابتو او اتفاق شويو شرعي احکامو مطالعه کوي، د دې لپاره چې د دې احکامو په څېړنه کې د اسلامي اقتصاد لپاره يو ټاکلی ميتود او واضح ميکانيزم ته د رسېدو هڅه وکړي. همدارنګه به د هغوی له لارې روښانه کړو چې څنګه اسلامي اقتصاد په واقعيت کې د اقتصادي شرعي احکامو په تطبيق کار کوي. د ثابتو شرعي احکامو په څېړنه کې د اسلامي اقتصاد وړانديز شوی ميتود په پنځو اړخونو کې محدودولی شو:

١. د وجوب يا تحريم حکمت او اقتصادي اغېزې.
٢. د غير اسلامي واقعيت لپاره اسلامي بديل.
٣. په اقتصادي نظريه استدلال: په دې چې د وجوب ځای له اقتصادي اړخه مثبتې اغېزې لري، او د تحريم ځای منفي اغېزې لري.
٤. د اقتصادي فکر په تاريخ شاهدي: څکه چې د وجوب ځای د خلکو لپاره اړين او ګټور و، او د تحريم ځای په دوامداره توګه ټولنې ته فسادونه او زيانونه راوړل.

---

[10] العسال، *النظام الاقتصادي في الاسلام*، ١١٨.

[11] أحمد كمال أبو المجد، "التجديد في الإسلام"، *مجلة العربي* ١١ (اگست، ١٩٧٧)، ١١؛ محمد عمارة، *معالم المنهج الإسلامي* (الأزهر: دار الشروق، ١٩٨١)، ١٢٣.

۵. په عملي واقعيت شاهدي: د شرعي حکم د تطبيق د نشتوالي په حالت کې د بدو اغېزو روښانه کول، او د هغه له تطبيق وروسته د مثبتو اغېزو روښانه کول.[۱۲]

موږ دا پنځه اړخونه په تفصيل سره د نمونې په توګه د زکات د وجوب په موضوع کې په لاندې ډول څېړو:

### ۱.۲. د زکات د وجوب حکمت او د هغې اقتصادي اغېزې

زکات د فقر د شدت د کمولو لومړنۍ وسيله ګڼل کېږي، همدارنګه دا له انحراف او جرم څخه ساتونکی ديوال دی، او دا د شتمن په مال کې د فقير حق دی، او د دې لارې په تولنه کې د حسد او کينې پر ځای رحم او عاطفه رامنځته کېږي.

زکات د اسلام د پنځو ارکانو له ډلې څخه يو رکن دی، او د الله په کتاب، د هغه د رسول په سنت او د امت په اجماع واجب دی. د الله د کتاب دليل الله تعالی فرمايلي دي: ﴿او زکات ورکړئ﴾[۱۳]. د سنت دليل دا دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم معاذ بن جبل يمن ته ولېږه او ورته يې و ويل "هغوی ته خبر ورکړه چې الله پر هغوی په مالونو کې صدقه فرض کړې ده چې له شتمنو څخه يې اخيستل کېږي او پر فقيرانو يې وېشل کېږي. مسلمانانو په ټولو زمانو کې د هغې پر وجوب اجماع کړې ده، او صحابه کرامو رضوان الله عليهم د هغې له مانعينو سره په جنګ کولو اتفاق کړی دی.

زکات يوه لويه مالي سرچينه ده، چې ٪۱۰ په هغو کرنيزو محصولاتو چې د باران په اوبو خړوبېږي، او ٪۵ په هغو کرنيزو محصولاتو چې ښتن يې په مالي لګښت خړوبوي، او ٪۲.۵ په نغدو پيسو او سوداګريزو مالونو، او په همدې اندازه په هغو څارويو چې د شيدو او نسل لپاره ساتل کېږي.[۱۴]

قرآن کريم د مستحقو او اړمنو صنفونو بيان کړی او دا يې بشر ته نه دي پرېښي، ځکه چې هوسونه کېدايشي تمايل وکړي او نفسونه کېدايشي کمزوري شي او په پايله کې مال هغه څوک واخلي چې مستحق نه وي او هغه څوک ترې محروم شي چې مستحق وي. نو ځکه الهي پاملرنه د زکات د مصرفونو په دقيق ټاکلو کې وه،[۱۵] لکه څنګه چې الله تعالی فرمايي: ﴿إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ

---

[۱۲] يوسف القرضاوي، *فقه الزكاة* (بيروت: مؤسسة الرسالة، چاپ ۶، ۱۹۷۳)، ۸۸۹/۲.

[۱۳] البقرة ۴۳/۲.

[۱۴] القرضاوي، *فقه الزكاة*، ۸۹۰/۲.

[۱۵] القرضاوي، *فقه الزكاة*، ۵۴۳/۲.

ۚ فَرِيضَةً مِّنَ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ﴾.[16] *ژباړه: صدقات یوازې د فقیرانو، مسکینانو، پر هغې د کارکوونکو، د زړونو د الفت اخیستونکو، د مریانو [د آزادولو]، پوروړو، د الله په لاره کې او لارې د زوی لپاره دي، [دا] د الله له لوري فریضه ده، او الله ښه پوه حکمت والا دی.*

سره له دې چې د زکات ټولنیزې اغېزې ډېر اهمیت لري، موږ یې یوازې پر اقتصادي اغېزو بسنه کوو، د څېړنې له موضوع سره د هغوی د نیږدې اړیکې له امله، له مهمو اغېزو څخه یې په لاندې توګه دي:

۱. د ملي عاید په بیا وېش کې د زکات اغېزه: زکات د عاید د بیا وېش لپاره تر ټولو غوره وسیله ګڼل کېږي، ځکه چې دا د شتمنو له مال څخه یوه برخه اخیستل دي چې پر فقیرانو و وېشل شي، د مالیې په خلاف چې له فقیرانو اخیستل کېږي او پر شتمنو وېشل کېږي.[17]
کله چې زکات د پېرودلو د وړتیا یوه برخه له شتمنو څخه فقیرانو ته ولېږدوي، نو دا په اوږد مهال کې د دې لامل کېږي چې د ملي عاید وېش عادلانه والي ته نیږدې شي. نو پر دې بنسټ هغه ټولنیزې مرستې چې فقیرو طبقو ته ورکول کېږي د وېش په توپیر کې د فاصلې کموونکي عامل ګڼل کېږي ، همدارنګه هغه وړیا عامه خدمتونه چې فقیران ترې ګټه اخلي لکه زده کړه، روغتیایي پاملرنه او د یتیمانو او معلولینو د پناه ځایونو خدمتونه.
د عاید د واحدونو د شمېر په زیاتوالي سره د منفعت د کموالي له امله، د زکات له لارې د شتمن له عاید څخه یو شمېر واحدونه فقیر ته لېږدول د شتمن له زیان څخه فقیر ته ډېره ګټه رسوي، او وروستۍ پایله دا ده چې د زکات له لارې د عاید په بیا وېش سره د ټولنې ټولیزه ګټه زیاتېږي.
د زکات د بریالیتوب له لاملونو څخه د شتمنۍ د بیا وېش د وسیلو په توګه دا دی چې دا پر ټولو ودې کوونکو مالونو وضع کېږي او په دې توګه جامعیت او تطبیق یې پراخوالی پیدا کوي. او د دې له امله چې دا هر کال تکرارېږي، دا یې د شتمنۍ د بیا وېش لپاره یوه دایمي وسیله ګرځولې ده.

۲. پر پانګونه د زکات اغېزه: زکات د پانګونې د زیاتوالي لامل کېږي کله چې د استخدام او تولید د زیاتوالي لپاره کار کوي د زکات د حاصل د مصرفي لګښت په لور د لارښوونې له لارې، چې دا د معجل د عمل له امله د پانګونې پر توکو غوښتنه زیاتوي.[18]

---

[16] التوبة ۹/۶۰ .
[17] العسال، *النظام الاقتصادي في الاسلام* ، ۱۲۰.
[18] العسال، *النظام الاقتصادي في الاسلام*، ۱۱۸.

همدارنګه زکات خلک د پانګونې زیاتوالي ته هڅوي، ځکه چې پرته له پانګونې به پیسې د زکات او نورو له امله د له منځه تللو سره مخ وي، او دا هغه څه دي چې اسلام يې نه مني. نو ځکه د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا وينا ده {اتجرو في أموال اليتامى لا تأكلها الزكاة}،[19] *ژباړه: د يتيمانو په مالونو کې سوداګري وکړئ چې زکات يې ونه خوري.*

د دې لامل دا دی چې له نصاب څخه د زیاتو مالونو څخه د ۲.۵٪ ایستل، په پنځو کلونو کې د ۱۰٪ د ایستلو لامل کېږي ، او له نصاب څخه زیات به په څلوېښتو کلونو کې په زکات کې لاړ شي.[20]

۳. پر کار د زکات اغېزه: زکات عاید له شتمنو څخه فقیرانو ته لېږدوي. او معلومه ده چې په شتمنو کې د مصرف اندازې میل کم او د سپما اندازې میل زیاتوي، خو په فقیرانو کې برعکس د مصرف حدي میل زیات او د سپما حدي میل کم وي. په دې یوه مهمه پایله مرتبېږي، هغه دا چې د زکات حاصل به د ټولنې هغې ډلې ته متوجه شي چې د مصرف حدي میل په کې زیات وي، او دا د پېرودلو د وړتیا د زیاتوالي او په پایله کې د فعالې غوښتنې د زیاتوالي لامل کېږي، چې په دې توګه د مصرفي توکو پر تقاضا کې زیاتوالی راځي، نو مصرفي صنعتونه وده کوي، او دا د مصرفي توکو په جوړولو کې د کارېدونکو تولیدي توکو د ودې لامل کېږي. او د ضارب او معجل د اغېزې د تداخل له امله به د اقتصادي ودې څرخ ګړندی شي او استخدام به زیات شي او د دې په تعقیب به د نوي کار فرصتونه زیات شي.[21]

٤. پر امنيتي ثبات د زکات اغېزه: د شتمنو او فقیرانو ترمنځ د واټن کمول او په ټولنه کې د توپیر د شدت کمول د متقابل ملاتړ او همکارۍ لومړنی مظهر دی، همدارنګه دا د ټولنې د وضعیت د سلامتیا صحیح شاخص دی له اقتصادي، ټولنیز او په پایله کې امنيتي اړخه.[22]

د توپیر د شدت کمول د ټولنیز امنیت د تخمونو د کرلو لامل کېږي ، او په پایله کې ټولنه په اسانۍ سره د قوت، پرمختګ او تمدن د لاملونو په لور خوځېږي.

د زکات اته مصرفونه د هغه ډلې استازيتوب کوي چې تقریباً تر ټولو زیات زیانمن شوي دي، چې له هغوی څخه د امنیتي او ټولنیز اختلال تخمونه زېږېږي. نو په دې توګه د زکات له پیسو څخه د

[19] مالك بن أنس، *موطأ مالك* (مصر: دار احياء التراث العربي، بی‌تا)،۲۵۱، (۵۹۷).

[20] أميرة مشهور، *الاستثمار في الاقتصاد الإسلامي* (قاهره: مكتبة مدبولي، ۱۹۹۱م)، ۱۳۹.

[21] العسال، *النظام الاقتصادي في الاسلام*، ۱۲۱؛ مشهور، *الاستثمار في الاقتصاد الاسلامي*، ۱۴۲.

[22] العسال، *النظام الاقتصادي في الاسلام*، ۱۲۳.

دې ډلو د اړتیا پوره کول له فتنې څخه ساتونکی دیوال او له ګډوډۍ، افراطیت او جرم څخه کلکه ډال استازیتوب کوي.[۲۳]

په ټولنه کې د پانګونې په زیاتوالي او په پایله کې د تولید او استخدام په زیاتوالي کې د زکات ونډه اخیستل د اړمنو د اړتیا په پوره کولو کار کوي، همدارنګه د استخدام فرصتونه زیاتوي، نو د بېکارۍ کچه کموي. او معلومه ده چې بېکاري پر ټولنه څه خطرناکې ټولنیزې او امنیتي اغېزې لري. نو د بېکارۍ د شدت په کمولو سره په ټولنه کې د امنیت او ثبات کچه زیاتېږي.

### ۲.۲. د غیر اسلامي واقعیت لپاره اسلامي بدیل

زکات د خودخواهۍ، انانیت او بخل لپاره شرعي علاج ګڼل کېږي چې د پیسو راټولوونکي پرې اخته کېږي، نو په دې توګه د زکات په ورکولو سره د بخل او خودخواهۍ په ناروغۍ د اخته کېدونکو شمېر کمېږي. همدارنګه دا کولی شي د معاصرو مالیاتو له ډېرو ډولونو څخه بې نیازه کړي، په ځانګړې توګه هغه مالیات چې د زکات د اتو مصرفونو لپاره د لګولو په موخه وضع کېږي. او معلومه ده چې د معاصرو مالیاتو ډېر ډولونه پر شتمنو او فقیرانو وضع کېږي، نو د نفوذ لرونکي شتمن ترې تېښته کوي او فقیران یې ورکوي چې پر خپل فقر نور فقر زیات کړي.

د زکات مصرفونه په هره ټولنه کې د مختلفو حساسو سکتورونو استازیتوب کوي. نو د فقیرانو او اړمنو لګښتونه، د بېکارۍ او زړښت تاوانونه، او هر هغه څه چې په اوسني وخت کې ورته ټولنیزه پراختیا یا مرسته ویل کېږي د فقیرانو، مسکینانو او پر هغې د کار کوونکو له مصرف څخه اخیستل کېږي، او حتی امنیتي او پوځي لګښتونه کېدای شي د الله په لاره کې له مصرف څخه واخیستل شي. نو په دې توګه د زکات د فریضې تطبیق کولی شي د ټولنې د سکتورونو یوه مهمه برخه پوره کړي، چې دا د وضع شویو مالیاتو له ډېرو بنو څخه ډېر کموي.

### ۳.۲. په اقتصادي نظریه استدلال

اقتصاد پوهان او په سر کې یې کینز د پانګې پر سر د زکات له نسبت سره نیږدې د مالیې وضع کولو غوښتنه کوي ترڅو د معاصر اقتصاد افت اکتناز له منځه یوسي. همدارنګه سیاستوال او په سر کې یې د برتانیې د کارګرانو ګوند د پانګې پر سر د مالیې د وضع کولو غوښتنه کوي ترڅو په ټولنه کې د طبقو تر منځ د وېش عدالت تحقق ومومي.

سره له دې چې د وېش عدالت د هغو مهمو موخو څخه ګڼل کېږي چې دوديز اقتصاد یې د تحقق هڅه کوي، خو اقتصاد پوهان اعتراف کوي چې دوديز اقتصاد په تېرو دوو پېړیو کې د وېش د عدالت په تحقق کې په بشپړ ډول پاتې راغلی دی، او د دې پر ځای لوی احتکارات رامنځته

---

[۲۳] القرضاوي، *فقه الزکاة*، ۲/۵۴۰.

شوي دي، او د محرومو او شتمنو ترمنځ واټن پراخ شوی دی. دا د هغه تناقض له امله دی چې دوديز اقتصاد يې د مادي او ارزښتونو ترمنځ پر بنسټ ولاړ دی.

### ۴.۲. په اقتصادي تاريخ شاهدي

اسلامي تاريخ شاهدي ورکوي چې په اسلامي ټولنه کې د زکات تطبيق، ټولنه په لومړنيو اسلامي پېړيو کې د کفايت حد ته رسولې ده، بلکې د زکات تطبيق کله چې له عدالت، امانت او کفايت سره يوځای و، ټولنه يې له سوال څخه بې نيازه کړې او د قناعت او هوساينې لوړې درجې ته يې رسولې ده، لکه څنګه چې د عمر بن عبدالعزيز رحمه الله په دوره کې پېښ شول. ابو عبيد په الاموال کې راوړي: "عمر بن عبدالعزيز، عبدالحميد بن عبدالرحمن ته وليکل چې خلکو ته د هغوی عطاوې وباسه، نو عبدالحميد ورته وليکل: ما خلکو ته د هغوی عطاوې ايستلې دي، او په بيت المال کې لا مال پاتې دي، نو هغه ورته وليکل چې وګوره هر څوک چې پرته له سفاهت او اسراف څخه يې پور کړی وي، نو د هغه پور ادا کړه. نو هغه ورته وليکل: ما د هغوی پورونه ادا کړل، او د مسلمانانو په بيت المال کې لا مال پاتې دی، نو هغه ورته وليکل: وګوره هر ځوان چې مال نه لري او غواړي واده وکړي، نو واده يې وکړه او مهر يې ورکړه. نو هغه ورته وليکل: ما هر څوک چې وموندل واده مو ورته وکړ او د مسلمانانو په بيت المال کې لا مال پاتې دی، نو هغه ورته وليکل: وګوره هر څوک چې جزيه پرې وه او له خپلې ځمکې څخه کمزوري شوی و، نو هغه ته پور ورکړه چې پر خپله ځمکه پياوړی شي، ځکه موږ يې له هغوی څخه تريوه يا دوه کلونو پورې نه غواړو".[۲۴]

### ۵.۲. په عملي واقعيت استدلال

د زکات د فريضې بيا را ژوندي کول او په اوسني وخت کې په اسلامي ټولنو او هېوادونو کې د هغې تطبيق، د حکومتونو له خوا په شرعي ضوابطو د پابندۍ له اړخه ډېر شرطونه او ضوابط غواړي. تر هغه وخته چې دا کار ترسره شي، د زکات صندوقونه او د زکات کمېټې چې په ډېرو اسلامي هېوادونو کې شتون لري، کولی شي د دغه واجب يوه برخه ترسره کړي، په دې شرط چې د زکات د مالونو په راټولولو او لګولو کې امانتداري، اخلاص او وړتيا شتون ولري.

يوسف القرضاوي په معاصر واقعيت کې د زکات د اداري په اړه ګڼ وړانديزونه راوړي دي،[۲۵] همدارنګه د زکات د فريضې د معاصرو تطبيقاتو په اړه ډېرې غونډې جوړې شوې دي.

---

[۲۴] القرضاوي، *فقه الزکاة*، ۵۴۵/۲.

[۲۵] يوسف القرضاوي، ***لکي تنجح مؤسسة الزکاة في التطبيق المعاصر*** (جده: المعهد الاسلامي للبحوث والتدريب، ۱۹۹۴ م)، ۴۵.

### ۳. د اسلامي اقتصاد کړنلاره په متغیرو شرعي احکامو کې د څېړنې او ترجیح په اړه

متغیر شرعي احکام هغه احکام دي چې د وخت او ځای په بدلون سره یې علتونه بدلېږي. دا احکام کېدای شي د حرمت حکم واخلي کله چې د حرمت علت شتون ولري، او کېدایشي د جواز یا اباحې حکم واخلي کله چې د حرمت علت له منځه لاړ شي. په معاملاتو کې اصل د علتونو او مصلحتونو په لور پام کول دي، لکه څنګه چې په عباداتو کې د مکلف لپاره اصل تعبد دی.[۲۶]

لکه څنګه چې شاطبي رحمه الله تعالی وایي: "موږ وموندل چې شارع د بندګانو د مصلحتونو غوښتونکی دی، او عادي احکام له هغه سره ځرخېږي چېرته چې وګرځي، نو ته به وګورې چې یو شی په هغه حال کې منع کېږي چې په کې مصلحت نه وي، او کله چې په کې مصلحت وي نو جائېزیږي.[۲۷] او په بل ځای کې وایي: "د کړنو په پایلو کې کتل شرعاً معتبر او مقصود دي، که کړنې موافقې وي که مخالفې".[۲۸]

پر دې بنسټ، په دې مبحث کې به موږ د نبوي احادیثو غوره بېلګې وړاندې کړو چې اقتصادي موضوعات څېړي او په هر وخت او چاپېریال کې د فقهاوو د اجتهاد محل دي. د دې لارې به موږ د متغیرو شرعي احکامو په څېړنه کې د اسلامي اقتصاد وړاندیز شوې کړنلاره روښانه کړو. موږ به وګورو چې د متغیرو شرعي احکامو په څېړنه کې د اسلامي اقتصاد کړنلاره د ثابتو شرعي احکامو له څېړنې څخه توپیر لري. متغیر احکام د شرعي علتونو او مقاصدو سره ځرخي، او اسلامي اقتصاد کولی شي په ځانګړې ډول د مقاصدو، حکمتونو او اقتصادي اغېزو په اړه ځینې مسئلې روښانه کړي.

د دې لپاره به موږ هڅه وکړو چې له شرعي علتونو او مقاصدو څخه پیل وکړو، بیا اقتصادي عوامل او وسایل وکاروو، بیا د فقهاوو نظریات او دلائل روښانه کړو، او په پای کې به د مخکینیو عواملو پر بنسټ ترجیح وشي. له پورتنیو موضوعاتو څخه کولی شو د متغیرو شرعي احکامو د څېړنې او ترجیح لپاره د اسلامي اقتصاد وړاندیز شوې کړنلاره په لاندې ټکو کې راونغاړو:

۱. شرعي مقاصد
۲. د شرعي نص اقتصادي لوستل
۳. د فقهاوو د نظریاتو او دلائلو څېړل
٤. ترجیح

---

[۲۶] محمد عثمان شبیر، *المعاملات المالیة المعاصرة في الفقه الاسلامي* (عمان: دار النفائس، ۱۹۹۶ م)، ۱۴۵.
[۲۷] ابراهیم الشاطبي، ***الموافقات فی اصول الشریعة*** (بیروت: دار المعرفة، بی‌تا)، ۳۱/۵.
[۲۸] الشاطبي، *الموافقات*، ۳۰/۵.

موږ به هڅه وکړو چې دا وړاندیز شوې کړنلاره د نمونې په ډول د یتیمانو په مالو سره د تجارت په موضوع کې د نبوي احادیثو په رڼا کې په لاندې ډول سره و څېړو:

انس بن مالك رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: {اتجرو في أموال اليتامى لا تأكلها الزكاة}.[29] *ژباړه: د یتیمانو په مالونو کې سوداګري وکړئ، چې زکات یې ونه خوري.*

### ۱.۳. شرعي مقاصد

دا حدیث د هغو شرعي نصوصو په چوکاټ کې راځي چې د مال له ذخیره کولو، ساتلو او د الله تعالی د نعمتونو د ناشکرۍ څخه منع کوي چې په هغه څه کې یې نه کاروي چې ورته پیدا شوي دي. د الله تعالی د دې وینا په رڼا کې: ﴿وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ يَوْمَ يُحْمَىٰ عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَىٰ بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ ۖ هَٰذَا مَا كَنَزْتُمْ لِأَنفُسِكُمْ فَذُوقُوا مَا كُنتُمْ تَكْنِزُونَ﴾.[30] *ژباړه: او هغه کسان چې سره او سپین زر زېرمه کوي او د الله په لاره کې یې نه لګوي، نو په دردناک عذاب ورته زېرې ورکړه. په هغه ورځ چې دا به په دوزخ کې تود کړای شي او د دوی تندي، اړخونه او شاګانې به پرې داغل کېږي، دا هغه څه دي چې تاسو د ځان لپاره زېرمه کړي وو، نو وڅکئ هغه څه چې تاسو به زېرمه کول.*

موږ د مال زېرمه کوونکو لپاره تهدید او وعید وینو، نو ایا د یتیم مال په دې زېرمه شویو مالونو کې راځي؟ دا هغه اساسي مسأله ده چې وبه څېړل شي.

### ۲.۳. د حدیث اقتصادي تحلیل

په پاسني حدیث شریف کې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم دا قول چې فرمایي: "اتجروا" یعنې سوداګري وکړئ، دا قول د سوداګرۍ هڅونه ده، ځکه چې په سوداګرۍ کې د خلکو لپاره ګټې دي، او د مال وده هم په کې ده. اسلام، مال په ودې هڅوي، د هغه په کارولو او په مشروع لارو د پانګونې له لارې چې خلکو ته ګټه و رسوي، او همدارنګه د هغه په نېکو لارو کې په لګولو توصیه کوي. دا سمه نه ده چې مال بند او معطل پاتې شي، ځکه چې په دې کې له یوې خوا د مال څښتن ته زیان دی او له بلې خوا ټولنې ته زیان دی، او اسلام زیان نه مني او نه یې خوښوي.

مال د یوه حکمت لپاره پیدا شوی، لکه څنګه چې امام غزالي په احیاء علوم الدین کې د سرو او سپینو زرو په اړه وایي: «*الله تعالی سره او سپین زر دواړه پیدا کړي چې لاسونه یې تبادله کړي او د مالونو ترمنځ په عدل سره حاکمان وي، او بل حکمت دا دی چې د دوی په وسیله نورو شیانو*

---

[29] مالك بن أنس، *الموطا*، ۲۰۵/۱، (۵۹۷).

[30] التوبة ۹/ ۳۴-۳۵.

*ته لاسرسی وشي. نو چا چې دا زېرمه کړل، پر دوی یې ظلم وکړ او حکمت یې په کې باطل کړ، او داسې شو لکه څوک چې د مسلمانانو حاکم په زندان کې بندي کړي چې د حکم کولو څخه منع شي».*[۳۱]

پیسې د تبادلې د وسیلې په توګه رامنځته شوې، نو څکه د پیسو معطلول او بندول د تبادلې د محدودولو او معطلولو لامل ګرځي، چې په پایله کې د تولید معطلېدل، د بېکارۍ زیاتوالی او اقتصادي رکود رامنځته کوي. همدارنګه پیسې د ارزښتونو د معیار په توګه رامنځته شوې، نو کله چې د ارزښتونو معیار بند او له خپلې دندې څخه معطل شي، د خلکو ژوند ګډوډېږي، بې نظمي خپرېږي او خلک پېرې شاته ځي.

په دې توګه موږ وینو چې کله اسلام د یتیم په مال کې د سوداګرۍ اړتیا ټاکي، نو یو شمېر مهم اصول په لاندې توګه ټاکي:

۱. اسلام زیان نه مني بلکې د هغه په لرې کولو هڅوي: د یتیم له مال څخه هر کال د زکات ایستل د هغه په مال کې کمښت او خوړل دي، او په دې کې یتیم ته خالص زیان دی، او په اسلام کې نه زیان شته او نه زیان رسول، په ځانګړې توګه چې یتیم ته ثواب نشته، ځکه چې مکلف نه دی، او غیر مکلف څخه داسې تصرفات نه صحیح کېږي چې شرعاً په پام کې ونیول شي.

۲. په وده او پانګونه هڅول: په وده کې د بندګانو مصلحتونه شته، او اسلام ټول مصلحت دین دی. هر هغه څه چې مصلحت ته رسوي، اسلام ورته رابللي، نو ځکه د یتیم په مال سوداګري د څو مصلحتونو د ترلاسه کولو لپاره ده، لکه د هغه د مال ساتنه، وده او د ټولنې د ګټې او پرمختګ زیاتوالی.

۳. د اکتناز (پیسې زېرمه کولو) حرمت: دا هغه بنسټیزه مسأله ده چې حدیث پرې تمرکز کوي. د پیسو په جریان کې اچول د کارګرانو لپاره کار رامنځته کوي او د راکړې ورکړې کچه زیاتوي چې د اقتصادي پراختیا او ودې لامل ګرځي، دا د تولید، عاید او استخدام د زیاتوالي له لارې کېږي.

خو د پیسو ساتل او زېرمه کول د راکړې ورکړې د محدودولو، ټولیزې تقاضا د کمولو او په پایله کې د بېکارۍ د زیاتوالي او اقتصادي رکود د رامنځته کېدو لامل ګرځي.

نو ځکه د هغو خلکو لپاره سخت ګواښ او وعید راغلی چې خپلې شتمنۍ زېرمه کوي، ځکه دوی ټولنې ته ډېر زیان رسوي. الله تعالی فرمایي: ﴿وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ يَوْمَ يُحْمَىٰ عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَىٰ بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ

---

[۳۱] ابو حامد الغزالي، *احیاء علوم الدین* (بیروت: دار المعرفة، بی‌تا)، ۱۱۴.

وَظُهُورُهُمْ ۖ هَٰذَا مَا كَنَزْتُمْ لِأَنفُسِكُمْ فَذُوقُوا مَا كُنتُمْ تَكْنِزُونَ﴾.[۳۲] *ژباړه: او هغه کسان چې سره او سپین زر زېرمه کوي او د الله په لاره کې يې نه لګوي، نو په دردناک عذاب ورته زېری ورکړه. په هغه ورځ چې دا به په دوزخ کې تود کړای شي او د دوی تندي، اړخونه او شاګانې به پرې داغل کېږي، دا هغه څه دي چې تاسو د ځان لپاره زېرمه کړي وو، نو وڅکئ هغه څه چې تاسو به زېرمه کول.*

### ۳.۳. د اکتناز په اړه د فقهاوو نظریات

د اکتناز مسأله یوه پخوانۍ فقهي مسأله ده چې په پخوا او اوس وخت کې څېړل شوې ده. ښايي تر ټولو لومړنی کس چې دا مسأله يې پورته کړه او بيرغ يې اوچت کړ، جليل القدر صحابي ابوذر غفاري رضي الله عنه و چې مسلمانان يې د اکتناز څخه منع کول او د پورتنيو آيتونو په رڼا کې يې د الله تعالی په عذاب وګواښل.

ابوذر رضي الله عنه داسې ګڼله چې کوم مال چې د اړتيا څخه زيات وي او خاوند يې ونه لګوي، هغه اکتناز ګڼل کېږي. د دې نظر سره د ډېرو صحابه وو مخالفت و، لکه عثمان رضي الله عنه. د صحابه کرامو يو لوی شمېر لکه عثمان او عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنهم داسې ګڼل چې د مال زکات ورکول، مال د اکتناز له دايرې څخه باسي، او دا هغه نظر دی چې جمهور فقهاوو لخوا راجح ګڼل شوی.[۳۳]

خو يو شمېر معاصر فقهاء ټينګار کوي چې که څه هم د زکات ورکولو سره ذخيره کول حرام نه دي، خو د اقتصاد له نظره الاکتناز مضر دی، ځکه د توليد او دوران پر ځای مال بند پاتې کېږي. نو د اسلامي اقتصاد له فلسفې سره سم غوره لاره دا ده چې شتمنی د پانګونې، انفاق او اقتصادي جريان کې واچول شي.[۳۴]

### ۴.۳. ترجيح

د فقهاوو د نظرياتو له څېړنې او بحث وروسته، ويلی شو چې د اکتناز دايره د ټولنې له حالاتو او اقتصادي وضعيت سره تړلې ده. د ټولنې اقتصادي حالت په درې ډوله وېشلی شو:

#### ۱.۴.۳. د بې وزله ټولنې حالت

که چېرې ټولنه بې وزله او غريبه وي، نو د اړتيا څخه زيات هر څه ساتل د پيسو ذخيره کول ګڼل کېږي، لکه څنګه چې د ابو ذر رضی الله و عنه نظر دی، چې ډېر فقهاء پدې اړه ټينګار کوي. په

---

[۳۲] التوبة ۹/ ۳۴-۳۵.

[۳۳] النووي، *المجموع شرح المهذب* (مدینه منوره: المکتبة السلفية، بی‌تا)، ۱۲/۱۳؛ محمد بن احمد القرطبي، *الجامع لأحكام القرآن* (بیروت: دار احياء التراث العربي، ۱۹۶۵ م)، ۱۲۵.

[۳۴] العسال، *النظام الاقتصادي في الاسلام*، ۱۲۲.

استثنايي حالاتو کې لکه آفتونه، قحطۍ او جګړې، امير او  واکمن کولی شي د شتمنو په مال کې ماليه وضع کړي.

امام قرطبي وايي: «داسې ښکاري چې د ابو ذر رضي الله عنه څخه په دې اړه روايت شوي ټول څه دا دي چې آيت د سختۍ اړتيا په وخت کې نازل شوی، کله چې مهاجرين کمزوري وو او د رسول الله صلى الله عليه وسلم لاس د هغوی د کفايت لپاره لنډ و، او په بيت المال کې داسې څه نه و چې د ټولو لپاره کافي وي، او د قحطۍ کلونه پر دوی راغلي وو، نو د اړتيا له اندازې پرته د مال له ساتلو څخه منع شول، او په داسې وخت کې د سرو زرو او سپينو زرو ذخيره کول جايز نه دي».[35]

له بلې خوا، د ضرورت په حالاتو کې د فقهاوو په اتفاق سره يو کس کولی شي د بل چا له مال څخه واخلي او د هغه له خوراک څخه پرته له اجازې وخوري. حتی ابن حزم له دې هم وړاندې تللی، خوراک ته اړ کس ته يې اجازه ورکړې چې له منع کوونکي سره وجنګيږي، که چېرې ووژل شي نو پر وژونکي يې قصاص دی.[36]

### ۲.۴.۳. د هوسا او شتمنې ټولنې حالت

که چېرې ټولنه شتمنه وي او اقتصادي وضعيت يې بشپړې کارموندنې ته رسېدلی وي، داسې چې په ټولنه کې بېکاري نه وي او په سختۍ سره به کوم غريب يا اړمن پيدا شي، نو په داسې حالت کې د مال زکات ورکول د مال د ذخيره کولو له دايرې څخه د وتلو لپاره کافي دی، لکه څنګه چې د جمهور فقهاوو نظر دی.

د پام وړ ده چې دا هم يو استثنايي حالت دی، او د دې دوام ستونزمن دی. په بشري ټولنه کې بايد غريبان وي او بېکاري بايد موجوده وي، او د اقتصاد پوهانو له خوا د بشپړې کارموندنې يا بشپړ استخدام په اړه خبرې يوازې نظري فرضيه ده، که نه نو دا حالت نشي پېښېدای، او که پېښ شي هم، ژر به د بشري ټولنې له طبيعت سره سم بدلون ومومي.

او د ځينو له خوا د عمر بن عبدالعزيز رضي الله عنه (۹۹-۱۰۱هـ.ق) په دوره کې پېښ شوي حالت په اړه استدلال، چې کوم شتمني او هوساينه رامنځته شوې وه، دا يوازې د ډېر لنډ وخت لپاره وه، او دا په ټولو سيمو کې نه، بلکې په هغه وخت کې د اسلامي دولت په ځينو ښارونو کې پېښه شوې وه.

---

[35] محمد بن احمد القرطبي، *الجامع لأحكام القرآن* (بيروت: دار احياء التراث العربي، ۱۹۶۵ م)، ۱۲۸.

[36] القرضاوي، *فقه الزكاة*، ۲/۲۳۴.

### ۳.۴.۳. د عادي ټولنې حالت

په عادي او طبيعي حالاتو کې، چې په کې غريبان او شتمن دواړه شتون لري، او بېکاري، رکود، انفلاسيون او نه ختمېدونکې اقتصادي ستونزې موجودې وي، هغه څه چې مال د ذخيره کولو له دايرې څخه باسي، د زکات او پر مال د نورو واجبو حقونو ورکول دي، لکه د کورنۍ او خپلوانو نفقه، پور ورکول، ښه قرض، کفارې، او د داوطلبانه لګښت نور ډولونه، بلکې دا چاره کېدايشي د مال داسې پانګونې ته اړتيا ولري چې هم د مالك او هم د ټولنې ګټه په کې وي.[۳۷]

مورږ کولای شو موضوع په لا روښانه ډول د لاندې بېلګې په وسيله انځور کړو: که د يوه مسلمان په ملکيت کې سل ميليونه ډالر وي، ايا دا بسنه کوي چې يوازې دوه نيم ميليونه ډالر د زکات په توګه وباسي او پاتې شتمني له دوران څخه وباسي او ذخيره کړي؟ هېڅ عاقل به د داسې سترې پانګې د کنزولو يا بندولو خبره ونه مني. ځکه چې دغه اندازه پانګه کولای شي لسګونه فابريکې فعالې کړي، زرګونه کسانو ته د کار زمينه برابره کړي، د توليد په زياتېدو کې مرسته وکړي او د زرګونو کورنيو او کورونو په جوړېدو کې ونډه واخلي، چې په پايله کې د اقتصادي او ټولنيز پرمختګ لامل ګرځي.

خو د مال بندول او خزانه کول ټولنه له ټولو پورته ګټو بې‌برخې کوي، سربېره پر دې د مال د دوران د بندېدو له امله ګڼې منفي پايلې رامنځته کېږي، لکه رکود، بې‌کاري، د توليد کمزورتيا او د اقتصادي ودې ځنډ.

دغه منفي اغېزې هغه وخت لا ډېرې خطرناکې کېږي چې پانګې د ربوي بانکونو په ځانګړې ډول د بهرنيو بانکونو په خزانې کې د سود په بدل کې کېښودل شي. ځکه دغه پانګې د بهرنيو هېوادونو د اقتصادونو په پياوړتيا لګېږي او کېدای شي د مسلمانانو د دښمنانو په ګټه هم وکارول شي.

پر همدې بنسټ، په اوسنيو اسلامي ټولنو کې د ترجيح وړ نظر دا دی چې يوازې د زکات ايستل د مال له کنزولو څخه د ايستلو لپاره بسنه نه کوي، بلکې بايد هغه نور حقونه هم ادا شي چې په مال کې واجب دي، او تر څنګ يې بايد شتمني په داسې ډول وکارول شي چې هم د مالك او هم د ټولنې لپاره ګټوره وي.

له دې خبرو هېڅکله دا مطلب بايد وانخلو چې ګوندې د فقهاوو رول کمزورې ګڼل کېږي، بلکې دا يوازې د اجتهادي هڅو او وړانديزونو يوه هڅه ده، څو د شرعي نصوصو لا ښه خدمت وشي، او فقهاء وتوانېږي چې د شرعي حکم انطباق له اقتصادي واقعيت سره په بشپړه توګه وکړي، په داسې بڼه چې د شريعت لوړ مقاصد ترلاسه شي.

---

[۳۷] العسال، *النظام الاقتصادي في الاسلام*، ۱۲۳.

**پایله**

د ترسره شوې څېړنې له تحلیلي او تطبیقي ارزونو څخه دا مهمې پایلې تر لاسه شوې، چې د اسلامي اقتصاد د څېړنیزو اصولو، میکانیزمونو او د شرعي نصوصو سره د تعامل د څرنګوالي وضاحت کوي، اسلامي اقتصاد د شرعي نصوصو په رڼا کې د اقتصادي مسائلو د څېړلو لپاره روښانه او ځانګړې تګلاره لري. دا تګلاره د شریعت له اصولو، مقاصدو، او د فقهې له معتبر میراث سره تړلې ده، چې د څېړنیز کار لپاره یو واضح چوکاټ وړاندې کوي.

په هغو اقتصادي احکامو کې چې ثابت او د علماوو ترمنځ پرې اجماع شته، لکه د زکات وجوب، د سود حرمت، د تړونونو د پوره کولو وجوب، او د ناحقه مال خوړلو حرمت، اسلامي اقتصاد د څېړنې لپاره ځانګړی میکانیزم لري. دغه میکانیزم په لاندې برخو مشتمل دی:

- د حکم د حکمت او اقتصادي اغېزو بیانول.
- د تحریمي احکامو په صورت کې د اسلامي بدیل وړاندې کول، او د وجوبي احکامو په صورت کې له غیرشرعي بدیلونو څخه د خلاصون هڅه.
- د اسلامي اقتصادي تاریخ څخه استشهاد.
- د عملي واقعیتونو څخه ګټه اخیستل او استشهاد.

په هغو اقتصادي احکامو کې چې متغیر یا اختلاف منونکي دي، لکه د نرخ ټاکل، د سود علت، او د احتکار حدود، هم اسلامي اقتصاد ځانګړی میکانیزم لري. دا میکانیزم په لاندې تګلارو ولاړ دی:

- د شرعي مقاصدو پر بنسټ تمرکز.
- د نصوصو اقتصادي تفسیر او تحلیل.
- د فقهاوو د نظریاتو وړاندې کول او مقایسه.
- د پورتنیو اصولو پر بنسټ د قوي نظر ترجیح.

د اسلامي اقتصاد څېړنیز فعالیتونه کولای شي داسې اقتصادي تګلارې رامنځته کړي چې له عملي پلوه د پالیسیو د جوړولو لپاره ګټورې وي، خو دا تګلارې د فتوا ځای نه نیسي. له همدې امله، د اسلامي اقتصاد څېړونکي باید د خپلو نظریو د شرعي اعتبار لپاره فقهاوو ته مراجعه وکړي او د فتوا صادرولو صلاحیت هغوی ته پرېږدي.

## مصادر او مراجع


قرآن کریم

۱. أبو المجد، أحمد كمال. *التجديد في الإسلام*. مجلة العربي، كويت، اګست، ۱۹۷۷ م.
۲. أبو عبيد، الأموال. *مكتبة الكليات الأزهرية*، قاهره، ۱۹۷۵ م.
۳. احمد، امام احمد بن حنبل. *مسند احمد*. بیروت: المكتب الإسلامي، چاپ۲، ۱۹۷۸ م.
۴. الألباني، ابن ماجه. *صحيح ابن ماجه*. بیروت: المكتب الإسلامي، چاپ۱، ۱۹۸۶ م.
۵. ابن القيم، محمد بن أبي بكر. إعلام الموقعين عن رب العالمين. بیروت: دار الجيل، (بی تا).
۶. ابن القيم، محمد بن أبي بكر. *الطرق الحكمية في السياسة الشرعية*. قاهره: مطبعة السنة المحمدية، ۱۹۵۳ م.
۷. ابن تيمية، احمد. الحسبة في الإسلام. دار الكاتب العربي، (نېټه نشته).
۸. ابن قدامة، *المغني والشرح الكبير*. بیروت: دار الكتاب العربي، ۱۹۷۲ م.
۹. الباجي، أبو الوليد. *المنتقى شرح الموطأ*. دار الكتاب العربي. بیروت: د ۱۳۳۲هـ.ق لومړي چاپ څخه انځوريز چاپ.
۱۰. حمود، سامي. *تطوير الأعمال المصرفية بما يتفق والشريعة الإسلامية*. عمان: دار الاتحاد العربي للطباعة، ۱۹۷٦ م.
۱۱. الزرقا، انس. *"إسلامية علم الاقتصاد"*. *د ملک عبدالعزيز پوهنتون مجله: اسلامي اقتصاد* (۱۹۹۰ م)، ۲.
۱۲. زيدان، عبدالكريم، المدخل لدراسة الشريعة الإسلامية، مؤسسة الرسالة، بیروت، ۱۹۸۹، يوولسم چاپ.
۱۳. السويلم، سامي ابراهيم. "الوساطة المالية في الاقتصاد الإسلامي" *د ملک عبدالعزيز پوهنتون مجله: اسلامي اقتصاد* (۱۹۹۸ م)، ۱۰.
۱۴. شابرا، محمد عمر. *ما هو الاقتصاد الإسلامي*. جده: المعهد الإسلامي للتدريب والبحوث، جده، ۱۹۹٦ م.
۱۵. الشاطبي، ابراهيم. *الموافقات في أصول الشريعة*. بیروت: د عبدالله دراز څېړنه، دار المعرفة، نېټه نشته.
۱٦. شبير، محمد عثمان. *المعاملات المالية المعاصرة في الفقه الإسلامي*. عمان: دار النفائس، ۱۹۹٦ م.
۱۷. شقير، محمد لبيب. *تاريخ الفكر الاقتصادي*. مصر- قاهره: دار نهضة مصر، ۱۹۷۷ م.

١٨. الشوكاني، نيل الأوطار. *شركة مصطفى البابي الحلبي*. مصر: نېټه نشته.
١٩. صديقي، محمد نجاة الله. *لماذا المصارف الإسلامية*. جده: د رفيق المصري ژباړه، المركز العالمي لأبحاث الاقتصاد الإسلامي، ١٩٨٢ م.
٢٠. صقر، محمد. *قراءات في الاقتصاد الإسلامي*. جده: ملك عبدالعزيز پوهنتون، المركز العالمي لأبحاث الاقتصاد الإسلامي، ١٩٨٧ م.
٢١. العتر، نور الدين. *المعاملات المصرفية والربوية وعلاجها في الإسلام*. بيروت: دريېم چاپ، مؤسسة الرسالة، بيروت، ١٩٧٨ م.
٢٢. العربي، محمد عبدالله. *النظم الإسلامية*. قاهره: معهد الدراسات الإسلامية، قاهره، ١٩٧٠ م.
٢٣. العسال، احمد او فتحي عبدالكريم. *النظام الاقتصادي في الإسلام*. قاهره: دار غريب، قاهره، ١٩٧٧ م.
٢٤. العسقلاني، ابن حجر. *فتح الباري شرح صحيح البخاري*. بيروت: دار المعرفة، ١٣٧٩هـ.ق.
٢٥. عمارة، محمد. *معالم المنهج الإسلامي*. الأزهر الشريف او المعهد العالمي للفكر الإسلامي، دار الشروق، ١٩٨١ م.
٢٦. العوضي، رفعت. *الاقتصاد الإسلامي*. مكه مكرمه: مكتبة الطالب الجامعي، ١٩٨٦.
٢٧. العوضي، رفعت. *في الاقتصاد الإسلامي*. قطر: رئاسة المحاكم الشرعية، ١٤١٠هـ.ق.
٢٨. الغزالي، ابو حامد. *إحياء علوم الدين*. بيروت: دار المعرفة، نېټه نشته.
٢٩. الغزالي، عبدالحميد. *الأرباح والفوائد المصرفية بين التحليل الاقتصادي والحكم الشرعي*. جده: المعهد الإسلامي للبحوث والتدريب، اسلامي پراختيايي بانک، ١٩٩٤ م.
٣٠. الفنجري، محمد. *المذهب الاقتصادي في الإسلام*. جده: دار عكاظ، ١٩٨١ م.
٣١. القرضاوي، يوسف. *فقه الزكاة*. مؤسسة الرسالة. بيروت: شپږم چاپ، ١٩٧٣ م.
٣٢. القرضاوي، يوسف. *السياسة الشرعية في ضوء نصوص الشريعة ومقاصدها*. قاهره: مكتبة وهبة، ١٩٩٨ م.
٣٣. القرضاوي، يوسف. *لكي تنجح مؤسسة الزكاة في التطبيق المعاصر*. جده: المعهد الإسلامي للبحوث والتدريب، ١٩٩٤ م.
٣٤. القرطبي، محمد بن أحمد. *الجامع لأحكام القرآن*. بيروت: دار إحياء التراث العربي، ١٩٦٥ م.
٣٥. قطب، محمد. *واقعنا المعاصر*. جده: مؤسسة المدينة، ١٩٨٨ م.

۳۶. کمال، یوسف. *أضواء على الفكر الاقتصادي الإسلامي المعاصر*. قاهره: دار الأنصار، نبته نشته.

۳۷. الكفراوي، عوف. *الآثار الاقتصادية والاجتماعية للإنفاق العام في الإسلام*. اسکندریه: مؤسسة شباب الجامعة، ۱۹۸۳ م.

۳۸. مالك بن أنس، الموطأ. مصر: دار إحياء التراث العربي، نبته نشته.

۳۹. مدني، غازي. *تطور علم الاقتصاد الإسلامي ودور مركز أبحاث الاقتصاد الإسلامي فيه*. جده: المعهد الإسلامي للبحوث والتدريب، اسلامي پراختيايي بانک، ۱۹۹۶ م.

۴۰. مشهور، أميرة. *الاستثمار في الاقتصاد الإسلامي*. قاهره: مکتبة مدبولي، ۱۹۹۱ م.

۴۱. المصري، رفيق. *مصرف التنمية الإسلامي*. بيروت: مؤسسة الرسالة، ۱۹۸۱ م.

۴۲. المنيع، عبدالله. *الورق النقدي*. خپرندوی نشته، ۱۹۸۴م.

۴۳. المودودي، ابو الأعلى. *الربا*. بيروت: مؤسسة الرسالة، ۱۹۷۹ م.

۴۴. النووي، *المجموع شرح المهذب*. مدينه منوره: المكتبة السلفية، نبته نشته.

۴۵. النيسابوري، مسلم. *صحيح مسلم بشرح النووي*. قاهره: المطبعة المصرية بالأزهر، ۱۳۴۹هـ.ق.